د پرانيستي ورځ پرمهال د ملګرو ملتونو چارواکو د افراطي تاوتريخوالي د مخنيوي په برخه کې د ښځو د لا پراخې ونډې غږ وکړ

کابل، د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر ۲۶ – د ملګرو ملتونو يوه لوړ پوړي چارواکي نن په کابل کې د مدني ټولنې استازو سره له ليدنې وروسته وويل: د ښځو خوندیتوب او د هغوی پياوړتيا له افراطي تاوتريخوالي سره د مبارزې د ستراتيژۍ لپاره اړينه دی.

ننني ناسته په ۲۰۱۶ کال کې د پرانيستي ورځې د لمانځلو لپاره جوړه شوې وه، چې پام يې په سوله او امنيت ورټول دی او د افغانستان د بيلابيلو مدني ټولنو هغو ښځينه استازو په کې ګډون کړی وو چې د سولې او امنيت په تړاو موضوعاتو باندې کار کوي. د ملګرو ملتونو دوو لوړ پوړو چارواکو هرې يوې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي مرستيالې پرنيلا کاردیل او د ښځو د پياوړتيا او د جنسيت برابرۍ په برخه کې د ملګرو ملتونو د اداري استازي اليزيرا ساګينبايوا په يوه آزاده او پرمختللې ټولنه کې د ښځو مهم رول په ډاګه کړ چې په دې کې په افراطي تاوتريخوالي کوونکي باندې له بدليدو ځخه د دوی د کورنيو او يا هم د ټولنې د غړو مخنيوی هم راځي.

ميرمن کاردیل وويل: "په افغانستان کې، د تعصب پر باور ولاړ سيستم افراطي ايډيولوژي، ښځې او نجونې د هغوی له بنسټيزو بشري حقونو لکه د ګرځيدو راګرځيدو، آزادۍ او ښوونې او روزنې او روغتيايي آسانتياوو ته له لاس رسي بې برخې کوي." نوموړې همدارنګه د حکومت مخالفو عناصرو له لوري ښځو ته د فزيکي سزا ورکولو او وژلو په تړاو اندیښنه ځرګنده کړه او د نه زغم د پيغام په ورکولو يې زياته کړه:"سياسي، مذهبي يا ټولنيز لنډ مهاله تبعيض، بې برخې کول او تاوتريخوالی له نړيوالو بشري معيارونو سره چې د افغانستان په قوانينو کې خوندي دي، اړخ نه لګوي."

د ښځو په توګه د افراطي ايډيالوژيو د قربانيانو له محدود تصور ورهاخوا، ښځې له افراطي تاوتريخوالي سره د مبارزې په برخه کې مهم رول لوبوي. په افغانستان کې د سولې او برابرۍ لپاره د افغان ښځينه مشرتابه د هڅو او هاند د ستايلو تر ځنګ آغلې ساګينباموا د ښځو د مشرتابه د بدلون په اړتيا او د تصميم نيونې په ټولو سطحو کې د ښځو د فعال ګډون لپاره د فضا په رامينځ ته کولو ړنا واچوله. نوموړې وويل: ښځې په افغانستان کې د تل پاتې سولې د لټون لپاره تر ټولو ستره نه کارول شوې سرچينه ده. د ښځو پياوړتيا او د جندر برابرۍ د پراختيا، روغې جوړې او د ځوانانو د افراطي کيدو په وړاندې د دريدو يو مهم لامل دی.

په ننني غونډه کې د مدني ټولنو استازو د سيمه ييزې ټولنې هغه نوښت ته هم اشاره وکړه چې پر مټ يې ښځې په خپلو ټولنو کې په ښوونځيو، کارځايونو او کورونو کې له خپل اغيز ځخه کار واخلي ځو افراطي ايډيالوژي چې تاوتريخوالی هڅوي او پالي يې، وننګوي. د بيلګې په توګه ښځې د کورنۍ په نارينه غړو فشار اچوي چې د اورپکی له ليکو سره يو ځای نشي. دغه بحث همدارنګه په دې هم ړنا واچوله چې ښځې کولی شي نور هغه کسان وهڅوي چې د افراطيت په لار شوي او ځينې وخت د بيوزلۍ او له پامه غورځول کيدو دې لارې ته هڅولي وي.

د يونا ما مرستيالي ميرمن کاردل وويل: "زه افغان حکومت هڅه وم ځو د جنسيت د حساسيت په پام کې نيولو او د بشري حقونو پر بنسټ ولاړه داسې پاليسۍ جوړې کړي، چې د افراطي تاوتريخوالي اساسي لاملونو په کې راونغاړي." ميرمن ساګينبايوا زياته کړه: مور اړتيا لرو ځو د افراطي تاوتريخوالي د کمولو او مخنيوي په موخه د ښځو تجربې وپيژنو، جوړې يې کړو او پراخې يې کړو."
ددې پاليسيو په عملي کولوکې بايد دا ډاد رامنځ ته شي، چې د ميرمنو او نجونو لپاره په سيا ست او پروګرامونو کې منظمه پانګونه کيږي چې ميرمني د جګړې د مخنيوي په مسله کې مساوي برخه لري او د شخړو د حل په برخه کې د هغوی لپاره زمينه برابره ده.

د مدني ټولنې ګډونوالو له ملګرو ملتونو، حکومتي چارواکو او مرسته کونکو وغوښتل، چې د فساد او بې وزلۍ په ګډون د بنسټ پالنې د ريښو د له منځه وړلو لپاره ډيره مرسته وکړي. د ښځو د هڅونکي ځواک په درک کولو سره، ګډونوالو ميرمنو همدارنګه غوښتنه وکړه، چې د ښځو په ديني زده کړو او پوهې دې ټينګار وشي، چې وکولی شي د بنسټ پالي ايډيالوژۍ له ننګونې سره دسوله ييزو مذهبي ارزښتونو او د نه تاوتريخوالي او زغم په پياوړو روايتونوسره چلند وکړي.

په ۲۰۱۰ کال کې د پرانيستې ورځې د غونډو موخه دملګروملتونو د امنيت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پريکړه ليک او ورپسې د ملګرو ملتونو ۷ نورو تعقيبي پريکړه ليکونو د عملي کولو لپاره دملګرو ملتونو د مشرتابه او په نړيواله کچه د ښځو د سازمانونو ترمنځ د خبرو اترو ملاتړ وشي. دغو وسايلو د سولې رامنځ ته کيدو په ګډون په امنيتي او سياسي انتقال کې د ښځو معنا لرونکي مشرتابه رامنځ ته کړه. په کابل کې د پرانيستې ملي ورځې په غونډې سربيره، يوناما د هرات، باميانو، کندهار، بدخشان، ننګرهار او ګرديز په ګډون په ټول هيواد کې په افراطي تاوتريخوالي ورته مشورې ترسره کړيدي.

د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د ۲۲۴۲ (۲۰۱۵) پريکړه ليک او د ملګرو ملتونو دسرمنشي لخوا د افراطي تاوتريخوالي د مخنيوي په برخه کې د عملي پلان په تعقيب، ميرمن کارډل او ميرمن ساګينبايوا يوځل بيا د افغان ادارو او مدني ټولنولخوا د ميرمنو د پياوړتيا او افراطي تاوتريخوالي ته د ځواب ورکولو او مخنيوي په برخه کې په خپلو ژمنو ټينګار وکړ.

***

لا زيات معلومات په لاندې پته ترلاسه کولی شئ:

د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداره: ellie.vanbaaren@unwomen.org
يوناما: spokesperson-UNAMA@un.org